# Understanding the Dependency Court Process

# (د انحصاري محکمې په پروسه باندې پوهیدل)

### تاسو حق لرئ چې:

- د درناوي سره درسره چلند وشي
- پوه شئ چې ستاسو د قضیې او ستاسو ماشوم سره څه پیښیږي
- د کلتوري پلوه مناسب خدمتونه ترلاسه کړئ
- ستاسو معلومات پټ/محرم وساتل شي

### تاسو مسؤلیت/ذمه واری لرئ چې:

- د پلان کولو په شریکو غونډو کې برخه واخلئ
- د خپل ماشوم سره لیدنه وکړئ، که چیرې د تطبیق وړ وي
- خپل د قضیې کارکوونکي ته د تلیفون شمیرې او پتې بدلونونو په اړه خبر ورکړئ
- تشریح کړئ چې تاسو د خوندي مور او پلار جوړیدو په توګه څه ته اړتیا لرئ

### ستاسو رول دا دی چې:

- د خپل ماشوم لپاره د پلان کولو لپاره خپلې هیلې څرګند کړئ
- د خپل قضیې کارکوونکي سره خبرې اترې وکړئ او د خپل قضیې په پلان کې شکیل شئ

Washington State Department of
CHILDREN, YOUTH & FAMILIES



## ستاسو د قضیې کارکوونکي رول څه دی؟

ستاسو د قضیې کارکوونکی به تاسو ته د هغه دلیل/لامل په اړه خبرتیا درکړي چې ستاسو ماشوم ولې د انحصار په پروسه کې دی. دوی به ستاسو سره ملګرتیا وکړي ترڅو ستاسو اړتیاوې او ارزوې او تاسو سره د خوندیتوب کواښونو او خطرونو کمولو یا له منځه وړلو تمرکز کولو خدمتونو کې مرسته وکړي.

## د انحصار عریضه څه شی دی؟

د انحصار عریضه یو قانوني سند دی چې محکمې ته د دې اندیښنو په اړه لیږل کیږي چې ستاسو ماشوم سره ناوړه چلند شوی، غفلت/بې پروایي یا پریښودل شوی دی، یا هیڅ مور یا پلار د دې توان نلري چې ستاسو د ماشوم په خوندي توګه پاملرنه وکړي. د انحصار عریضه له محکمې څخه د کام پورته کولو او ستاسو ماشوم له زیان څخه ژغورلو او ایالت څخه ستاسو د ماشوم لنډمهاله قانوني توقیف فرض کولو/په غاړه اخیستلو غوښتنه کوي. ځای په ځای کول کیدای شي د کور څخه بهر یا په کور کې دننه د خدمتونو سره وي ترڅو ستاسو د ماشوم په خوندي ساتلو کې ستاسو سره مرسته وکړي.

## څارنوال/وکیل

تاسو د څارنوال/وکیل حق لرئ. که چیرې تاسو د خپل عاید له امله خپل څارنوال/وکیل نشئ نیولی، محکمه به تاسو ته یو وټاکي.

## داوطلب/رضاکاره GAL/GAL

داوطلب/رضاکاره (GALs (Guardians ad Litem (د محکمې لخوا ټاکل شوی سرپرست) یا (GALs (Guardians ad Litem (د محکمې لخوا ټاکل شوی سرپرست) د قاضیانو لخوا ستاسو د ماشوم وکالت لپاره ټاکل کیږي. داوطلب/رضاکاره GAL یا GAL د محکمې په اوریدنو کې قاضي ته راپور ورکوي چې د دوی په اند ستاسو ماشوم (د 12 کلنۍ څخه کم) په غوره ګټو کې څه دي او ستاسو ماشوم څه ته اړتیا لري یا غواړي. داوطلب/رضاکاره GAL یا GAL به کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو ماشوم تل د محکمې لخوا هره پریکړه کې په پام کې نیول کیږي.

## مهمې اړیکې

**د قضیې کارکوونکي نوم:**

---

**یو څارنوال/وکیل ته اړتیا لرئ؟**

د ګمارل شوي سلاکار دفتر:

Office of Public Defense (د عامه دفاع دفتر)
تلیفون: 360-586-3164
بریښنالیک: **opd@opd.wa.gov**
**www.opd.wa.gov/index.php/program/parents-representation**

**د داوطلب/رضاکاره GAL/GAL نوم او د تلیفون شمیره:**

---

---

**Office of the Family and Children's Ombuds (د کورنۍ او ماشومانو د محتسب دفتر)** د اداري/اژانس د کړنو یا بې کفایتۍ په اړه د شکایتونو څیړنه کوي چې پکې یو داسې ماشوم یا والدین شامل وي چې د ماشومانو د ساتنې یا د ماشومانو د هوساینې خدمتونو کې شکیل دي.
وړیا تلیفوني شمیره: 1-800-571-7321
تلیفون: (206) 439 -3870
**www.ofco.wa.gov**

**د ماشومانو سره ناوړه چلند/غفلت راپور کړئ**
(1-866-ENDHARM (1-866-363-4276 شمیرې ته زنګ ووهئ
په اونۍ کې 24 ساعته/اوه ورځې د مستقیم تلیفون لیکه چې تاسو به نیغ په نیغه د مناسب محلي/ځایي دفتر سره وصل کړي.
**www.dcyf.wa.gov/safety/report-abuse**

تاسو د **DCYF** د اساسي قانون د **اړیکو دفتر سره** په 1-800-723-4831 شمیره باندې اړیکه نیولی شئ ترڅو د شکایت په رسمي پروسې پوهه شئ.
**www.dcyf.wa.gov/contact-us/constituent-relations**

---

*DCYF* تبعیض نه کوي او د نژاد، رنګ، جندر، مذهب، عقیدې، ازدواجي حالت، ملي اصل، جنسي تمایل، عمر، تجربه کار حالت، او د هر ډول فزیکي، حسي، یا رواني معلولیت شتون په پام کې نیولو پرته د ټولو خلکو لپاره خپلو پروګرامونو او خدمتونو ته مساوي لاسرسی چمتو کوي.

که چیرې تاسو د دې خپرونې وړیا کاپیانو په بدیل بڼه یا ژبه کې لرل غواړئ، نو مهرباني وکړئ د *DCYF* اساسي اړیکو سره په *1-800-723-4831* شمیره یا بریښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ ***communications@dcyf.wa.gov***.

DCYF PUBLICATION CWP_0044 | DSHS 22-1499 PA (04-2023) Pashto

## پوهیدل مهم دي



د محکمې د پروسې په جریان کې په هره شیبه کې، یو قاضي ستاسو ماشوم ستاسو د کور څخه بهر ځای په ځای کولو یا بیرته ستاسو په کور کې ځای پرځای کولو پریکړه کولی شي. که چیرې ستاسو ماشوم د کور څخه بهر په پاملرنې کې پاتې شي او تاسو د خپل ماشوم د خوندي ساتلو لپاره اړین بدلونونو ترسره کولو توان نلرئ، تاسو کیدای شي د خپل ماشوم د والدینو حق له لاسه ورکړئ. DCYF به تاسو ته د مرستې او خدمتونو وړاندیز وکړي ترڅو تاسو سره د دې پایلې څخه ډډه کولو کې مرسته وکړي او له خپل ماشوم سره یوځای شئ.

**د انحصاري محکمې پروسې مهال ویش** – مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپلې محکمې د اوریدنو په اړه د خپل څارنوال/وکیل سره خبرې وکړئ.

| د CPS حواله/راجع کول | ماشوم په محافظتي توقیف کې ساتل کیږي | د سرپناه/پناه ځای پاملرنې اوریدنه (ستاسو ماشوم د کومو لیست شویو محکمو اوریدنو وروسته کور ته راستون کیدی شي) | د سرپناه/پناه ځای پاملرنې دوامدار اوریدنه | د حقیقت موندنې اوریدنه (د انحصار عریضې د درج کولو په 75 ورځو کې دننه) | دډیسپوزیشن/ترتیب اوریدنه (د انحصار عریضې د درج کولو په 90 ورځو کې دننه) | د لومړي انحصار بیاکتنې اوریدنه | د دایمي پلان جوړولو اوریدنه | د انحصار بیاکتنې اوریدنه (په هرو 6 میاشتو کې روانه/ جاري) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پروسه دلته پیل کیږي | -72ساعته اعظمي | | 30 ورځې | 90 ورځې | | 6 میاشتې | 15-18 میاشتې | 18 میاشتې |
| CPS د یو ماشوم سره د ناوړه چلند یا غفلت/بې پروایی په اړه یو حواله/راجع کول ترلاسه کوي. حواله/راجع کول ارزول کیږي او یا هم د تحقیق/ پلټنې، د کورنۍ ارزونې ځواب، لپاره سکرین ان (اخیستل) کیږي یا سکرین اوټ (لرې) کیږي. که چیرې دا اړینه وګڼل شي چې ماشوم له فزیکي زیان څخه خوندي کړي، ستاسو ماشوم د محکمې یا قانون پلي/ تطبیق کونکي لخوا ستاسو له کور څخه لرې کیدی شي او د انحصار عریضه درج کیږي. که چیرې ستاسو ماشوم په خوندي توګه ستاسو په کور کې پاتې کیدی شي، ستاسو د ماشوم له لرې کولو پرته د انحصار عریضه ثبت کیدی شي. | که چیرې ستاسو ماشوم ستاسو له پاملرنې څخه لرې کړل شي، ستاسو د کور څخه د ماشوم د لرې کولو په صورت کې، به د هفتې او رخصتیو پرته، په 72 ساعتونو کې دننه د سرپناه/پناه ځای پاملرنې اوریدنه ترسره شي. که چیرې د انحصار عریضه ثبت شي او ستاسو ماشوم ستاسو په کور کې پاتې شي، د سرپناه/پناه ځای پاملرنې اوریدنه ممکن ستاسو د ماشوم په کور کې د پاتې کیدو لپاره شرایط رامینځته کړي ترڅو دوی خوندي وساتي. | په دې اوریدنه کې، تاسو پوښتنه کولی شئ چې محکمه تاسو یو څارنوال/وکیل وټاکي. یو قاضي پریکړه کوي چې آیا ستاسو ماشوم باید ستاسو د کور څخه بهر یا ستاسو سره ځای په ځای کیدو ته اړتیا ولري. که چیرې ستاسو ماشوم د کور څخه بهر په پاملرنې کې ځای په ځای شي تاسو غوښتنه کولی شئ چې ستاسو ماشوم د یو پالني کور پرځای د خپلوانو یا نږدې دلې سره پاتې شي. د قضیې کارکوونکی به د لیدنې منظم پلان ترتیب کړي، که چیرې ستاسو ماشوم له کوره څخه بهر ځای پر ځای شي. | محکمه بیا پریکړه کوي چې آیا ستاسو ماشوم به د کور څخه بهر په پاملرنې کې پاتې شي یا به تاسو ته بیرته درکړل شي. محکمه ستاسو د کورنۍ وخت لیدنې پلان او ستاسو ماشوم چې چیرته ژوند کوي بیاکتنه کوي. | که چیرې تاسو د انحصار په اړه اعتراض ته دوام ورکړئ، محکمه به ستاسو او نورو څخه د پیژندل شوي ماشوم خوندیتوب ګواښونو او د انحصار په عریضه کې د معلوماتو په اړه شاهدي واخلي. محکمه به یا هم ستاسو ماشوم په ایالت پورې انحصاري اعلان کړي یا انحصار له مینځه یوسي. | که چیرې ستاسو ماشوم انحصاري اعلان شي، محکمه به امر وکړي چې تاسو په داسې خدمتونو کې برخه واخلئ ترڅو د خوندیتوب ګواښونه له منځه یوسئ او په خپل کور کې خطرونه کم کړئ. محکمه به په دې اوریدنه کې د ځای پرځای کولو یا لیدنې مسلې هم حل/په ګوته کړي. | محکمه د خدمتونو سره ستاسو پرمختګ بیاکتنه کوي او په پام کې نیسي چې که چیرې اضافي خدمتونه شتون لري کوم چې ستاسو د ماشوم لپاره د خوندي کور چمتو/ وړاندې کولو ورتیا پیاوړې کولی شي. | محکمه په خدمتونو کې ستاسو د ګډون بیاکتنه کوي او که چیرې تاسو تر دې وخته پورې کافي پرمختګ نه وي کړی، او ستاسو ماشوم د کور څخه بهر پاملرنې کې ځای پر ځای شوی وي، محکمه به امر وکړي (په ځینو قضیو/حالاتو کې) چې ایالت ستاسو د والدینو حقونو ختمولو لپاره عریضه ثبت کړي. که چیرې د ختمولو عریضه ثبت شي، نو د مقدمې اوریدنه به شتون ولري چیرې چې ستاسو څارنوال/وکیل به ستاسو د قضیې په اړه شواهد وړاندې کړي. یو قاضي به پریکړه وکړي چې آیا ستاسو د پلارنۍ یا مورنۍ حقونه لغوه/ختم کړي یا نه. | محکمه په خدمتونو کې ستاسو د ګډون بیاکتنه کوي او که چیرې تاسو تر دې وخته پورې کافي پرمختګ نه وي کړی، محکمه به امر وکړي (په ځینو قضیو/حالاتو کې) چې ایالت ستاسو د والدینو حقونو ختمولو لپاره عریضه ثبت کړي.<br><br>که چیرې د لغوه/ختمولو عریضه ثبت شي، نو د مقدمې اوریدنه به شتون ولري چیرې چې ستاسو څارنوال/وکیل او د ایالت څارنوال/وکیل به ستاسو د قضیې په اړه شواهد وړاندې کړي. یو قاضي به پریکړه وکړي چې آیا ستاسو د پلارنۍ یا مورنۍ حقونه لغوه/ختم کړي یا نه. |

### د پلان جوړونې شریکې غونډې

د DCYF په ټولو شریکو پلان جوړونو غونډو کې ستاسو ښکیلتیا خورا مهمه ده. تاسو به د خطر عاملونو کمولو لپاره د خپل کورنۍ قضیې پلان جوړولو، د خپل ماشوم لپاره دایمي اهداف رامینځته کولو او د خپل ماشوم سره لیدو پلان جوړولو کې مرسته وکړئ. د غونډو ډیری ډولونه شتون لري چې تاسو به پکې ښکیل یاست. د غونډو ډیری مکرر ډولونو کې Family Team Decision Making (د کورنۍ ټیم پریکړه کول، FTDM) او دایمي پلان جوړول شامل دي. دا غونډې ستاسو د نظر د وړاندې کولو لپاره یو غوره وخت دی، هغه څه چې تاسو باور لرئ بدلون ته اړتیا لري او تاسو د دې بدلونونو د واقع کولو لپاره کوم ملاتړ ته اړتیا لرئ.

### د مور و پلار، ماشوم او وروڼو خویندو لیدنه (که چیرې ستاسو ماشوم د کور څخه بهر په پاملرنې کې ځای پرځای شوي وي)

د کورنۍ وخت د لیدنې لومړنی پلان د Family Team Decision Making (د کورنۍ ټیم د پریکړې کولو، FTDM) په لومړۍ غونډه کې رامینځته شوی. ستاسو د ماشوم سره د کورنۍ وخت په منظمه لیدنو کې ستاسو برخه اخیستنه د هغه وخت په جریان کې ستاسو او ستاسو ماشوم سره ستاسو د اړیکې/بانډ او ربط/تړاو ساتلو کې مرسته کوي کله چې ستاسو ماشوم ستاسو سره ژوند نه کوي. د کورنۍ وخت لیدنې پلان به بیان کړي چې چیرته، څومره په مکرر ډول، او څومره وخت به لیدنې واقع کیږي. په نورو جزیاتو کې به دا شامل وي چې څوک کولی شي د کورنۍ وخت لیدنې او د څارنې/نظارت کچه کې وي. د کورنۍ وخت لیدنې پلانونه هر وخت تازه/تر دې نېټې کیدی شي. د خپلې کورنۍ وخت لیدنې پلان په اړه له خپل قضیې کارکوونکی سره بحث وکړئ. که چیرې تاسو د خپل ماشوم لیدو لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، ستاسو د قضیې کارکوونکی او/یا وکیل/څارنوال ستاسو سره مرسته کولی شي.